# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## ریاست اطلاعات و ارتباط عامه

# بولتن خبری

# News Bulletin

28جوزا _سال 1401


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه


متن کامل اخبار ----------------------------------------------------------------------------------------- 4

بیش از دو هزار مهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمود ----------------------------------------------------------- 4

صدها خانواده در شماری از ولایات مدد مساعدت شد --------------------------------------------------------------- 4

هلمند ولایت کې له اړمنو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه ------------------------------------------------------------ 5

په میدان وردکو ولایت کې له (۱۱۳) کورنیو سره نغدي مرسته وشوه --------------------------------------------- 6

گرمای سوزان پاریس و وضعیت اسفبار پناهجویان افغان زیر خیمه ها ------------------------------------------- 7

فنلنډ غواړي چې د کډوالو د احتمالي راتګ له وېرې له روسیې سره پر پوله خنډونه جوړ کړي مهاجر نیوز --------- 10

فرانسه: هغه مهاجر چې د پولیسو په ډزو کې ټپي شوی ومړ------------------------------------------------ 12

افغان کډوالو سره د مرستې لپاره ۳۴۰ میلیون ډالره بسپنې ته اړتیا ده---------------------------------------- 13

ملګري ملتونه: د اروپا افغانانو ملاتړ ته دوام ورکوو--------------------------------------------------------- 14

"سی آی۴" شمار دیگری از مهاجران را در بحیره مدیترانه نجات داد----------------------------------------- 17

یونیسف: شمار کودکان آواره به میزان بی سابقه بیش از ۳۶ میلیون تن رسیده است------------------------------ 18

# متن کامل اخبار

## بیش از دو هزار مهاجرافغان ازایران به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت




**دو هزارو 419 نفر مهاجر، به تاریخ 24و25جوزا طور اجباری و داوطلبانه ازایران به وطن برگشت نموده اند.**

**به اساس معلو مات آمر سرحدی ریاست امور مهاجرین نیمروز، از میان افراد مذکور 67 خانواده ، شامل 249 تن همراه با 1460 افراد مجرد، طور اجباری و 28 خانواده شامل 105 تن همراه با 605 تن مجرد طور داوطلب واردکشور شده اند.**

**به گفته منبع ازآن میان، 91 خانواده شامل169 مرد و 174 زن وهمچنان 960 تن مجرد راغرض دریافت کمک، به دفتر IOMمعرفی شدند.**

**طبق یک خبر دیگر، 14 خانواده مهاجر مقیم پاکستان که شامل 107 نفر وهمه فاقد مدرک مدرک بودند، به تاریخ 25 جوزا ازطریق مرز سپین بولدک به وطن عودت نموده اند.**

## صدها خانواده در شماری از ولایات مدد مساعدت شد

ویب سایت وزارت




**برای 937 خانواده بیجاشده، عودت کننده ، خانم های بیوه و اطفال یتیم ، مساعدت شماری از موسسات، درهماهنگی باریاست های امورمهاجرین وعودت کننده گان ولایات هلمند، سمنگان ، جوزجان ومیدان وردک به تاریخ 25 جوزا روان توزیع شد.**

**مساعدت یادشده برای هریک از55 خانواده درجوزجان 27قطعه مرغ تخمی و ۳ قطعه خروس، برای هریک از 269 خانواده در سمنگان مبلغ 400 دالر امریکایی، برای هریک از 500 خانواده در هلمند مبلغ 420 دالر امریکایی مساعدت دفتر UNHCRو برای هریک از 113 خانواده در میدان وردک مبلغ 28هزار افغانی مساعدت دفترDRC ، بود.**

## هلمند ولایت کې له ارمنو کورنیو سره نغدي مرسته وشوه

د وزارت ویب پاڼه




**د هلمند ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست په همغږۍ د (UNHCR) موسسې له لورې د یاد ولایت له (۵۰۰) اړمنو کورنیو سره چې غربت ځپلي او د ژوند له لومړنیو اړتیاوو بې برخې ول، ورسره نغدي مرسته وشوه.**

**یادې کورنۍ مخکې د ګډ هیئت له لورې سروې او مستحقې پیژندل شوې وې، چې هرې کورنۍ ته (۴۲۰) امریکایی ډالر ورکول شوه.**

**د توزیع په وخت کې د هلمند د مهاجرینو چارو رییس او د (UNHCR) نماینده شتون درلود.**

## په میدان وردکو ولایت کې له (۱۱۳) کورنیو سره نغدي مرسته وشوه

د وزارت وېب پاڼه



**د میدان وردکو ولایت د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو ریاست له لورې، د روان کال د غبرګولي په (۲۵) مه د ٤شنبې په ورځ د دغه ولایت په سید آباد ولسوالی کې پر (۱۱۳) بې سرپرستو، کونډو یتیمانو ته نغدي مرسته وویشل شوه. هرې کورنی ته (۲۸) زره افغانی د (DRC) موسسې او مهاجرینو چارو ریاست له خوا ورکړل شوه.**

## گرمای سوزان پاریس و وضعیت اسفبار پناهجویان افغان زیر خیمه ها

مهاجر نیوز

**موج گرمای جدید در فرانسه افغان‌ها را نگران کرده و وضعیت زندگی آنها در زیر خیمه دشوار تر از قبل شده است. این در حالی است که دمای هوای پاریس در روز جمعه به ۳۴ درجه سانتیگراد افزایش یافته است.**

**بیش از یک ماه است که حدود ۹۰ پناهجو در زیر خیمه و زمین خشک در منطقه "پورت دو پانتن" در حومه شرقی پاریس، شب ها را در بی سرپناهی و روز ها را زیر نور سوزان آفتاب می گذرانند. این اردوگاه کنار جاده عمدتاً محل سکونت جوانان افغان است.**

**موج گرمای جدید در چند روز گذشته در فرانسه، زندگی این پناهجویان را دشوار تر کرده است. گرمای سوزان و خیمه های پلاستیکی باعث شده است که برخی از این جوانان افغان دچار مشکلات صحی شوند.**

**در اینجا جمعی از افغان ها در گرمای سوزان خیمه های خود را ترک کردند و زیر سایه درختان گرد آمدند. در اردوگاه حمام یا امکانات دیگری وجود ندارد و برای دوش گرفتن باید چند کیلومتر را طی کنند تا جایی برای شستن پیدا نمایند.**

**هوای گرم مانند بخاری**

متین مهاجر ۲۲ ساله افغان حدود یک ماه پیش وارد فرانسه شده و چند روزی است که در پاریس به دنبال پناهندگی است. وی گفت که از گرمای طاقت فرسا در این اردوگاه، مریض شده و به دلیل گرما و آفتاب داغ در طول روز نمی تواند بیرون برود.



در شرق پاریس، ده ها مهاجر افغان در زیر خیمه زندگی می کنند، ۱۷جون ۲۰۲۲. عکس: مهاجرنیوز

این جوان افغان که زیر سایه درخت ایستاده است به مهاجرنیوز گفت: «خیمه های ما پلاستیکی است و هوای داخل آن چنان گرم است مانند آنکه بخاری روشن باشد».

به جز چند نل آب و یک تشناب سیار، دیگر هیچ گونه امکاناتی در اردوگاه فراهم نبود.

متین که درجه حرارت بدنش بالا رفته و بدنش درد می کند می گوید، هیچکس از او سوال نمی کند. او می گوید برای فرار از گرما، صبح وقت از خیمه بیرون می شود و چندین کیلومتر را در مترو طی می کند تا حمامی و یا جایی برای شستن پیدا کند.

«موش ها ما را به خواب نمی گذارد»

**گرما در این اردوگاه، تنها مشکلی نیست که گریبانگیر این مهاجران افغان ها شده است، بلکه صدای موترها و موش ها در خیمه ها نیز خواب را آنها را بر هم زده است.**

**ویس که از ولایت ننگرهار به فرانسه آمده و ۱۵ روز است که در این اردوگاه زندگی می کند، می گوید که بدنش از گرما عرق کرده است. او نگران است که تمام تابستان را در گرمای سوزان زیر خیمه سپری کند.**



ویس مهاجر افغان در اردوگاهی در پاریس، ۱۷ جون ۲۰۲۲. عکس: مهاجرنیوز

**ویس گفت: «آنقدر گرمی زیاد است که آدم را می کشد. جای خوبی برای نشستن نداریم .شب‌هنگام، موش ها در خیمه می آیند، روی سینه‌مان می‌خزند و نمی‌گذارند بخوابیم«.**

**محب الله، مهاجر ۲۵ ساله افغان که ساکن این اردوگاه است، پس از ورود طالبان، از قندهار تا پاریس قاچاقی آمده است. وی امیدوار است که در آینده، دولت برای او سرپناهی فراهم کند. محب الله از مقامات می خواهد که برای او سرپناهی را فراهم کنند.**

تنها مهاجران افغان نیستند که روی زمین خشک با دمای بالا در پاریس خیمه زده اند. مهاجراندیگر از مراکش، اریتریا و تعدادی دیگر از کشورهای آفریقایی نیز شب ها را زیر خیمه می گذرانند و روز ها را در گرمای سوزان سپری می کنند تا پلیس از راه برسد و آنها را برای سرپناه به جاهای دیگر انتقال دهد.

سازمان های حمایت از مهاجران به شدت نگران این وضعیت هستند و از دولت فرانسه می خواهند که به این پناهجویان بی خانمان سرپناه بدهد.

## فنلنډ غواړي چې د کډوالو د احتمالي راتګ له وېرې له روسیې سره پر پوله خنډونه جوړ کړي مهاجر نیوز




فنلنډ وايي په پام کې لري چې له روسیې سره پر پوله به د خنډونو د جوړولو په موخه په خپلو سرحدي قوانينو کې بدلون رامنځ ته کړي. فنلنډ له دې څخه ډارېږي چې روسیه به دغه هیواد ته د کډوالو د ورتګ زمینه برابره کړي. خو اینالکو کې د سرحدي امنیت کارپوه دامین سیمونو وايي هېڅ کوم داسې ثبوت نشته چې وښیي چې دا ګواښ ریښتینی دی.

شد فنلنډ حکومت د جون پر ۶مه اعلان وکړ چې په پام کې لري چې دغه هیواد ته د احتمالي کډوالو د راتګ د مخنیوي په موخه له روسیې سره پر پوله د خنډونو د جوړولو لپاره خپل سرحدي قوانينو کې بدلون رامنځ ته کړي.

د رویټرز خبري اژانس په حواله پر اکراین د روسیې تر یرغل وروسته فنلنډ له دې څخه ډارېږي چې روسیې د بېلاروس په شان د منځني ختیځ، افغانستان او د افریقایي هیوادونه اتباع یاد هیواد واستوي .

**فنلنډ چې د ناټو د غړیتوب غوښتنه یې کړې ده له روسیې سره ۱۳۰۰ کیلومتره ګډه پوله لري چې ډېرى برخه یې ځنګلیزه ده .**

**په ورته مهال اینالکو کې د ملي امنیت کارپوه دامین سیمونو وايي چې نن سبا «د جیوپولیتیکي موخو لپاره له مهاجرت څخه ګټه اخیستل کېږي. په داسي حال کې چې اکراین کې جګړه روانه ده، مهاجرت د بی ثبات کولو د ابزارو په توګه کار اخیستل کېږي«.**

**د فنلنډ د کورنیو چارو وزارت مشاوره ان اهانو وايي دوی غواړي چې سرحد کې د پوله ساتونکو عملیاتي ظرفیت هم لوړ کړي. همدارنګه د پوله ساتونکو د حقوقي چارو مسولې سانا پالو وايي دوی اوس په پام کې لري چې پر خپله ربښتني خندونه جوړ کړي. په وینا یې دغه خندونه به په هغو ځایونو کې جوړ شي چې تر ټولو مهم وي.**

**خو ایا دا ګواښ ربښتنی دی؟ دامین سیمونو وايي چې فنلنډ خپل ذهن کې یو «خیالي مهاجرت» لري. د نوموړي په وینا مهاجرت د اروپا د ضعف نقطه ده. فنلنډ په تېرو څو کلونو کې بېلاروس او یونان کې رامنځ ته شویو مهاجرتي کړکېچونو ته ګوري او داسې ګومان کوي چې له ورته ګواښونو سره مخ دی.**

**د ۲۰۲۰ په مارچ میاشت کې ترکیې لسهاوو زره مهاجرو ته اجازه ورکړه چې د ځمکې له لارې یونان ته واوړي.**

**په ۲۰۲۱ کې بیا زرګونه کډوال له بېلاروس څخه پولنډ او لیتوانیا ته د ننوتلو هڅې وکړې. اروپايي هیوادونو په دې آند وو چې دغه وضعیت د بېلاروس ولسمشر الکساندر لوکاشېنکو رامنځ ته کړی ترڅو د لوېدیځو هیوادونو له خوا پرې لګولو شویو بندیزونو ته غبرګون وښيي.**

**دامین سیمونو وايي: «فنلنډ د ټولو دغو بېلګو په اړه فکر کوي. لوکاشېنکو له ایران او ترکیې څخه [د ویزو د ورکولو پروسه اسانه کړه] او پروازونو ته یې اجازه ورکړې وه. له ۳ زره تر ۵ زره کسان مېنسک ته انتقال شوي ول ترڅو پولنډ ته واوړي. اوس فنلنډ وېره لري چې مسکو د بېلاروس په څېر یاد هېواد ته د کډوالو د ورتګ زمینه برابره کړي«.**

**خو دغه کارپوه وايي چې دا یو «خیالي» ګواښ دی او یو دلیل یې هم د ۱۹۴۰ کلونو کې له روسیې سره د فلنډ جګړه ده چې په پایله کې یې ۸۰ زره فنلنډي سرتېري ووژل شول.**

**هغه زیاتوي: «له تېرو څو کلونو راهیسې د کډوالی مسله په یوه داسې وسیله بدله شوې چې په مختلفو طریقو ترې کار اخیستل کېږي. دا وېره شته چې ګڼ شمېر خلک یو هېواد ته داخل شي. خو د روسیې او فنلنډ پر پوله د داسې یو ګواښ د شتوالي په هکله هېڅ کوم ثبوت نشته. روسیه معمولاً د منځني ختیځ وګړو نهايي مقصد نه ده«.**

سرحدي قانون کې بدلون به د فنلنډ حکومت ته اجازه ورکوي چې له روسیې سره پر پوله خنډونه جوړ کړي او سرحد کې امنیتي تدابیر نور هم سخت کړي. د ګارډین په حواله فنلنډ دغه راز غواړي چې پناه غوښتنلیکونه په سرحد کې وړاندې شي.

د فنلنډ د کورنیو چارو وزیرې کریستا مېکونېن ویلي چې حکومت به د پوله ساتونکو تر ارزونو وروسته د خنډونو د جوړېدو په هکله پرېکړه وکړي.

## فرانسه: هغه مهاجر چې د پولیسو په دزو کې ټپي شوی ومړ

مهاجر نیوز




هغه مصري مهاجر چې په یوه یخچالي لارۍ کې پټ و او د پولیسو په ډزو کې ټپي شو و د چهارشنبې په شپه خپل ژوند له لاسه ورکړ. نوموړی هغه مهال ټپي شو چې موټر چلوونکي هڅه وکړه د پولیسو له پوستې څخه وتښتي .

د فرانسې په نیس ښار کې د تېرې سه شنبې په شپه یو مصری مهاجر د پولیسو په ډزو کې ټپی شوی و. د نیس ښار څارنوالي پروین درېوري د فرانسې خبري اژانس ته ویلي دي چې یاد کس د چهارشنبې په شپه خپل ژوند له لاسه ورکړی دی.

نوموړي زیاته کړې ده چې هغه سرتېری چې ډزې یې کړې وې اوسمهال په بند کې دي او پلټنې ترې روانې دي. په وینا یې دغه سرتېری وایي چې «د موجود ګواښ پر وړاندې یې له خپل ځانه مشروع دفاع» کړې ده.

پېښه د شپې په ۲ بجو کې رامنځ ته شوې وه. یوه لارۍ چې ځینې مهاجر یې انتقالول غوښتل چې د پولیسو له پوستې څخه وتښتي. دغه موټر له رویا درې څخه د نیس ښار پر لور روان و او پولیسو تعقیب کاوه.

هغه سرتېری چې ډزې یې کړې وایي چې نیس ښار ته نږدې د پولیسو یوه بله ډله هم وسره یو ځای شوله. خو په وینا یې لارۍ چلوونکي په ناڅاپي د پولیسو د موټر پر لور حرکت وکړ چې له امله یې هغه دې ته اړ شو چې د لارۍ د درولو لپاره څلور واره ډزې پرې وکړي.

لارۍ چلوونکي او دوه همکاران یې له پولیسو په تېښتو بریالي شول خو د نیس په مولن سیمه کې یې خپل موټر ودراوه. دوی بیا له سیمې څخه وتښتېدل خو پنځه مهاجر موټر کې پاتې وو.

د مهاجرو په ډله کې یو ۳۵ کلن مصری هم و چې په بېړنی توګه روغتون ته یووړل شو. پېښه کې کوم بل کس ته زیان نه ورسېدلی.

تر دغې پېښې وروسته د سوسیپل ښاروال پر خپله تویټر پاڼه د فرانسوي ځواکونو ملاتړ ښودلی و. نوموړي دا پېښه غندلی خو زیاته یې کړې وه چې ورته حادثات د یوه جرمي عمل پایله بلل کېږي او پولیسو هڅه وکړه چې د غمجنو پېښو د رامنځ ته کېدو مخه ونیسي.

هر کال زرګونه کډوال هڅه کوي چې له ایټالیا څخه فرانسې ته ځان ورسوي. دوی معمولاً له خطرناکو لارو او طریقو څخه کار اخلي او ځیني اې آن د اورګاډو سر ته خېږي.

## افغان کډوالو سره د مرستې لپاره ۳۴۰ میلیون ډالره بسپنې ته اړتیا ده

راديو آزادی




ارشیف

**د کډوالو لپاره د ملګروملتونو عالي کمېشنري وايي، له کورنيو بېخايه شويو او راستنېدونکو افغان کډوالو سره د مرستې لپاره ۳۴۰ میلیون ډالره بسپنې ته اړتیا لري.**

**دې ادارې پرون په یو بیان کې وویل، چې مرستندویو هېوادونو او ټولنو تراوسه له دې پیسو څخه یوازې په سلو کې ۵۷ مرستې ورسپارلې دي.**

**دا بیان افغانستان او پاکستان ته د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ د مرستیالې کیلي کلېمنټس له سفر وروسته خپور شوی دی.**

**مېرمن کلېمنټس د دې سفر په ترڅ کې پرون ټینګار وکړ چې دغه سازمان به له اړو افغانانو سره مرستو ته دوام ورکړي.**

## ملګري ملتونه: د اړو افغانانو ملاتړ ته دوام ورکوو

د آزادی رادیو




ارشیف: په افغانستان کې دننه د بې ځایه شویو افغان کډوالو له ډلې د یوې مېرمنې انځور

**د ملګرو ملتونو د کډوالو د لویې کمېشنرۍ مرستیالې افغانستان او پاکستان ته د سفر په پای کې ویلي، چې دا اداره به د اړو افغانانو ملاتړ ته دوام ورکړي.**

**د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمېشنرۍ مرستیالې کیلي کلېمنټس افغانستان او پاکستان د سفر په پای کې د بېځایه شویو کورنیو او هېواد ته د راستنېدونکو افغان کډوالو د ملاتړ پر اړتیا ټینګار وکړ.**

**مېرمن کلېمنټس پرون د غبرګولي په۲۷مه وویل، افغانان غواړي ډاډ ترلاسه کړي، چې یوازې نه دي پاتې او نړیواله ټولنه یې ترڅنګ ولاړه ده.**

**هغه زیاتوي: "د ملګرو ملتونو د کډوالو کمېشنري د زده کړو، لومړنیو اړتیاوو، استوګنځي او نغدو پیسو په برخو کې د مرستو له لارې، د هغو کورنیو د ملاتړ هڅه کوي چې غواړي خپل ژوند جوړ کړي. دا کورنۍ له سولې، ثبات، او داسې لارو چارو پرته چې ټولنه او نور هېوادونو یې ملاتړ وکړي بل څه نه غواړي".**

**د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنري وایي، له کورنیو بېځایه شویو او راستنېدونکو افغان کډوالو سره د مرستې لپاره ۳۴۰ میلیون ډالرو ته اړتیا لري.**

**د دې ادارې په وینا تراوسه مرستندویو هېوادونو او ټولنو یوازې په سلو کې ۵۷ مرستې ورسپارلې دي.**




افغانانو سره د نړیوالو د مرستو یو انځور

**د د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ مرستیالې د خپلو څرګندونو په یوه بله برخه کې وویل، چې افغان نجونې او ښځې خورا زیات زغم لري خو د دې په وینا تل د زده کړو او کار په برخه کې د خپلو حقوقو په اړه خبره کوي.**

**مېرمن کلېمنټس چې تېره اونۍ د ۴ ورځو لپاره په افغانستان کې وه د طالبانو له چارواکو سره ولیدل او همداراز په کابل او هرات کې یې له یوشمېر ښځو او نجونو سره خبرې وکړې.**

**د د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ د خبریالې له مخې کیلي کلېمنټس د ښځو اندېښنو ته غوږ ونیو او ویې ویل چې د افغانستان د راتلونکې د جوړولو لپاره د نجونو تعلیم اړین دی.**

**د د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ مرستیالې د پاکستان د بهرنیو چارو له وزیر او یو شمېر نورو چارواکو سره په کتنه کې هم د افغان کډوالو د ستونزو په اړه خبرې وکړې.**

**ملګري ملتونه وايي، اوسمهال په پاکستان کې د قانوني اسنادو لرونکي ۱،۳ میلیون او تر شاوخوا ۱،۵ میلیون پورې بې اسنادو افغان کډوال دېره دي.**

**دا سازمان د پاکستان د حکومت د ارقامو په حواله راپور ورکوي، چې له تېرکال راهیسې پر افغانستان د طالبانو تر واکمنېدو وروسته شاوخوا ۲۵۰ زره نور افغانان هم پاکستان ته تللي چې ځیني یې په ډېرو بدو شرایطو کې ژوند وي.**

## "سی آی۴" شمار دیگری از مهاجران را در بحیره مدیترانه نجات داد

مهاجرنیوز



۳۴ مهاجر که به تاریخ ۶ ماه می سال ۲۰۲۲ توسط یک کشتی کانتینری نجات داده شدند، دو روز بعد به کشتی "سی آی ۴" انتقال داده شدند.
عکس: سازمان سی آی

**پرسنل کشتی آلمانی "سی آی۴" در عملیاتی که روز چهارشنبه در بخش مرکزی بحیره مدیترانه انجام شد، ۷۶ مهاجر را نجات داد. آن ها مجموعا در جریان چهار عملیات در بحیره مدیترانه، حدود ۵۰۰ مهاجر را که به خطر غرق شدن مواجه بودند، نجات دادند .**

**به گزارش سازمان "سی آی" در سه ماموریتی که قبل از آن انجام شده بود، تیم کشتی نجات بیش از ۳۵۰ مرد، زن و کودک را به محل امنی انتقال داد. در روز دوشنبه ۶۳ آواره و مهاجر دیگر نجات داده شده بودند.**

**سازمان سی آی که در شهر رگنسبورگ آلمان مستقر است روز پنجشنبه اعلام کرد، این کشتی یک شب قبل از آن به یک تماس تیلفونی اضطراری واکنش نشان داده بود. به گفته آن ها ده ها تن در یک قایق بادی نشسته بود که آب به داخل آن رخنه کرده بود.**

**گوردون ایسلر از سازمان سی آی گفت که کشتی آن ها در زمان تماس تیلفونی اضطراری کمتر از سه ساعت با قایق مهاجران فاصله داشته و این قایق در طول شب به موقع پیدا شده است و این "شانس بزرگی" بوده است.**

**به گفته سازمان سی آی، بسیاری از افرادی که در جریان شب نجات داده شدند، دچار سوختگی با مواد کیمیایی هستند. این سازمان امدادگر در ادامه گفت: «وقتی که درقایق های بادی مواد سوخت جاری شده با آب بحر مخلوط شود، یک ترکیب کیمیایی ایجاد می شود که پوست را شدیدا می سوزاند«.**

**حالا شمار پناهجویانی که در کشتی سی آی ۴ به سر می برند مجموعا به ۴۹۲ تن رسیده است .قبل از آن در چند عملیات دیگر شماری از مهاجران و آوارگان نجات داده شده بودند.**

**حالا کشتی سی آی ۴ در انتظار دریافت اجازه برای ورود به یک بندر امن در ایتالیا یا مالتا است تا بتواند نجات یافتگان را آن جا پیاده کند. اغلب چند روز طول می کشد تا نهادهای دولتی چنین اجازه ای را صادر کنند.**

**بحیره مدیترانه جزو خطرناک ترین مسیرهای فرار در دنیا است. بسیاری از پناهجویان این سفر خطرناک را از لیبیا آغاز می کنند. در این کشور آوارگان و مهاجران را خطر شکنجه و نقض موارد دیگر حقوق بشر تهدید می کند.**

**به گزارش سازمان بین المللی مهاجرت، از آغاز سال روان تا به حال ۸۱۸ تن در سفر خطرناک جانشان را از دست داده و یا ناپدید شده اند. اما ارقام واقعی احتمالا بسیار بیشتر از این است.**

## یونیسف: شمار کودکان آواره به میزان بی سابقه بیش از ۳۶ میلیون تن رسیده است

مهاجرنیوز

**صندوق کودکان ملل متحد «یونیسف» در نیویارک روز جمعه اعلام کرد، از جنگ جهانی دوم تا به حال، شمار کودکانی که در اواخر سال ۲۰۲۱ به خاطر مناقشات، خشونت و بحران های دیگر در سراسر دنیا مجبور به فرار شده اند، هیچگاه اینقدر زیاد نبوده است .**

**بربنیاد آمار یونیسف، حدود ۳۶.۵ میلیون کودک مجبور به فرار از خانه های شان شده اند. حدود ۲۲.۸ میلیون تن از آن ها در پی مناقشات و خشونت بی جاشده اند.**




کودکان مهاجر یا آواره در مقابل حصار مرزی بین پولند و بلاروس. عکس: رویترز

**براساس این آمار شمار کودکان آواره در سراسر دنیا از سال ۲۰۲۰، ۲.۲ میلیون تن افزایش یافته است .یونیسف گفت، شمار این کودکان در نتیجه مناقشاتی که در کشورهایی مانند افغانستان و یمن جریان دارد، افزایش یافته است. براساس بیانیه این سازمان، ۷.۳ میلیون کودک دیگر در سال ۲۰۲۱ در پی بلایای طبیعی بی خانمان شده اند.**

**یونیسف در این بیانیه از حکومت های سراسر دنیا خواست که از آوارگان، مهاجران و کودکان بیشتر محافظت کنند. از آن جایی که این آمار از اواخر سال ۲۰۲۱ هستند، کودکان اوکراینی که پس از حمله روسیه به اوکراین بی خانمان شده و یا مجبور به فرار شده اند، شامل آن نمی شوند. از زمان حمله روسیه به اوکراین به تاریخ ۲۴ ماه فبروری ۲ میلیون کودک آواره شده و ۳ میلیون کودک دیگر در داخل کشور بی جا شده اند.**

**افزون براین، ۷.۳ میلیون کودک و خانواده های شان به خاطر بلایای طبیعی و تغییرات آب و هوایی مانند خشکسالی در افریقا و سیلاب های شدید در هندوستان، بنگله دیش و افریقای جنوبی بی جا شده اند.**

**براساس بیانیه یونیسف، بیش از یک سوم کودکان بی خانمان در کشور های افریقایی (۳.۹ میلیون یا ۳۶ درصد) یک چهارم در اروپا و آسیای مرکزی (۲.۶ میلیون یا ۲۵ درصد) و ۱۳ درصد (۱.۴ میلیون) در خاورمیانه و شمال افریقا زندگی می کنند.**

**در ادامه بیانیه یونیسف آمده است، حدود دو سوم از کودکان آواره در مکاتب ابتدایی ثبت نام شده اند. در حالی که فقط یک سوم از آوارگان نوجوان به امکانات تحصیلی دسترسی دارند.**

خبرنامه